# د جاپان دولت ۲۴ میلیونه امریکایی دالره د کابل ښار د ښوونی د آسانتیاوو د برابرولو لپاره مرسته کوي

**کابل ۲۲ جنوری ۲۰۰۹**

**په کابل ښار کې د ښوونی د آسانتیاوو د برابرولولپاره د جاپان دولت ۲۴ میلیونه امریکایی دالره بسپنه ورکوي . نن ورځ له یونیسف سره د نوی تړون پر بنسټ ، دښوونی د ۱۰۰۰ ټولګیو د رغونی سره به شاوخوا ۸۰،۰۰۰ زده کوونکی له دې ځخه ګټه پورته کړي .**

**دغه تړون نن په رسمی ډول د ښوونی په محترم وزارت کې د جاپان د سفیر ښاغلی هدیو ساتو، په افغانستان کې د محترم یونیسف دفتر د استازې آغلی کترین مبینګه او د ښوونی وزیر ښاغلی ډاکتر محمد فاروق وردک له خوا د ځانګړیو مراسمو په ترځ کې لاسلیک شو.**

**نوموړی ډالی شوی اندازه پیسی به د ښوونی وزارت د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د اهدافوپه ترلاسه کولوکې چې د زده کوونکو لپاره د زده کړی محفوظه چاپیریال برابرول ، د نجونی پر زده کړو تاکید کول ،د ښوونی د ځرنګوالی غښتلی کول او د دولت او ټولنی تر منځ د ښو اړیکو پرمختللی کولو کې مرسته وکړي.**

**په افغانستان کې د یونیسف استازی آغلی کترین مبینګه داسی وویل ـــــ:کورنی (میندی او پلرونه) د خپلو ماشومانو د ښوونی غوښتنه کوي لکه ځرنګه چې په ۲۰۰۸ کال کې له 6 میلیون نه زیاته ماشومان په افغانستان ښوونځیو کې شامل شوی دي . دولت او نور همکاران د یونیسف په ګډون په ګډه سره د کورنیو دغی غوښتنی ته د ځواب لپاره کارکوي ؛ تر ځو د دې هیواد کورنی خپل ماشومان په ښوونځیو کې شامل او د ښوونی د بهیر دوران یی وګوری . دغه ډالی د جاپان دولت لخوا دغی غوښتنی ته په ځواب ورکولو کې یوه بله ښه مانا ورکوي ."**

**په یوه پراخه مانا کې د دې پروژی موخه په اساسی زده کړو کې د جندر او یا جنس په منځ کې د توپیر کموالی او د ۲۰۱۰ کال د پای پورې د ټولو ماشومانو لپاره په ښوونې کې پرمختګ دی .**

**د افغانستان په ټولو شاملو زده کوونکو کې ۱۲ سلنه زده کوونکی د کابل په ښار کې دي . اوس مهال ۳۵ ښوونځی کافی اندازه تعمیرونه نه لري . ۲۵ ښوونځي د تعمیر او فضا د کموالی په خاطر د ورځی په ځلورو دورو کې زده کړی کوي چې په ټولګیو کې د ربښتیني زده کړی لپاره وخت ډیر کم او د ښوونی ځرنګوالی ډیر کمزوری وي . د جاپان دغه مرسته به د دغو ستونزو په حل کې مرسته وکړي .**

**د جاپان سفیر ساتو وویل : د جاپان دولت په تیرو اوو کلونو کې د ښوونی سکتور ته لومړیتوب ورکړی دی او افغان دولت یی د یونیسف له لارې تقویه کړی دی . زه د زړه له تله د یونیسف ادارې له عالی چارو او د ښوونی وزارت له ګډو هڅو ځخه چې د دې هیواد د ښوونی د ځرنګوالی د پرمختګ لپاره کار کوی ، مننه کوم .**

**دریو لسیزی جګړی د افغانستان لاندیني جوړښت (زیر بنا) ویجاړه کړی ، ښوونیز مرکزونه یی ټوټه کړی او د روغتیا اساسی خدمتونه او د هیواد په ډیرو برخو کې د ښوونی او اوبو سیستمونه زیانمن کړی دي .**

**د افغانستان دولت د ۲۰۰۴ کال په می کې زریزی پرمختیایی هدفونو ته ننوتی دی. د دې هیواد د زریزی پرمختیایی هدفونو نبښه تر ۲۰۲۰ کال پورې ده چې لا یې ۱۳ نور کلونه شته دي تر ځو دغه هدفونو ته ورسیږي .**

**كه څه هم ډير څه تر سره شوی دی خو لاهم شاوخوا ۴۰ سلنه ښوونځی ته برابر ماشومان له ښوونی بې برخی دي چې په دی کې ۶۵ سلنه نجونی جوړوي .**

**د هیواد راتلونکی د ښوونی په سکتور کې په پانګه اچونی تړلی دی . د ښوونی څرنګوالی د بیوزلی په کموالی او د افغانستان د وټی (اقتصاد) په وده کې یو بحرانی عنصر دي .**

**جاپان د یونیسف اداري سره د افغانستان د دولت لپاره په ځانګړی ډول د ښوونی او روغتیا په برخه کې یو اوږد مهالی همکار دی . له ۲۰۰۰ کال راهیسی د جاپان مرستی د افغانستان دولت سره د یونیسف له لارې په دی هیواد کې ۸۹ میلیون دالرو ته رسیږي .**

**For more information, please contact:**
Ministry of Education, Asif Nang; +93 (0) 799 33 79 58
Embassy of Japan in Afghanistan, Mr. Kazuo Tsukada; +93 799 689 862
UNICEF Kabul, Fawad Sahil fsahil@unicef.org +93 (0) 798 507 114